پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل

لنډه یادونه : ماسره داسی یو نظر را پیدا شو چی دخپل منطقی د چپو ( کیڼ اړخواومترقی غورځنګونو)ځواکنوپه اړه اود هغوپرمبدا ، تاریخی کړنو، پیښواوپرمختګونوباندی رڼا واچوم او د خپل ورځنی مطالعاتود پایلی لنډ یز د محترمو لوستونکو سره دلا معلوماتو د ترلاسه کولو د پاره شریکه کړم تر څو چی د منطقی په اقتصادی ،اجتماعی ،فرهنګی،جیو پولیتیکی ، جیو ستراتیژیکی او په نورو برخوباندی یو څه پوهاوی ولرویعنی د خپل کور د چاپیریال په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړو نوددی اصل په پام کی نیولو سره مخکی له هرڅه نه غواړم چی د پاکستان د چپ اړخ د غورځنګونو په پیژندوباندی پیل وکړم: په ځای بولم چی دغه لیکنه په دڅومقالوترسرلیک لاندی به دوام وکړی.

# په پاکستان کی د کیڼ اړخوګوندونواوغورځنګونو لنډ تاریخچه

په پاکستان کي د کیڼ اړخ د ځواک او د غورځنګ اصلي او مبدوي ریښه د هندوستان کمونیستي غورځنګ دي یعني د پاکستان کین اړخ غورځنګ د هندوستان د کمونیستي غورځنګ یو له راپاتي څانګو څخه دي او بیا پخپله د هندوستان کمونیستي غورځنګ خپل د جوړیدو او د مینځ راتلو الهام د روسی د بورژوا دموکراتیک (۱۹۰۵) اوداکتوبر (۱۹۱۷) دانقلابونو څخه تر لاسه کړي دي ، ولادیمیرایلیچ لینن پخپله د هندوستان د هغو ورځو پر حالاتو با ندي ډیر کلک پا ملرنه درلود اودلینن څخه ډیر مخکی کارل مارکس د هند په اړه کوم چي هغه هند د یوځانګړي علاقي پوری وړهیواد بلل نوخپل پوره پاملرنه هندته اړولي وه اوهند یی دراتلونکوغورځنګونودپاره یوځواکمن متحد اوملګري ګڼل نوپه دي بنیا د مارکس دهند په اړه زیات مقالي ولیکل او بیا په خاصه توګه دهند دآزادي غوښتني دجګړي (۱۸۵۷) په اړه زیات یاداشتونه اومقالي لیکلي . یعني دهغه آزادی غوښتونکي پر پاڅون باندی کوم چی د ناکامی سره مخامخ شو اود انګلیس امپریالیزم دیو قرن دپاره دهند پرنیمه وچه یا قاره باندی خپل تسلط ته دوام ورکړل اوهغه هیواد یی له یو سره لوټ کړل او دهغه ټول مادی اومعنوی شتمني یی د ځان سره ویوړل . په هرصورت دا یوڅرګند حقیقت دی

چي زبيښاک اولوټماري صنعتي ا ساس او زيربنايي جوړښتونو ته ضرورت لري کوم چي دهغه جوړښتونواود صنعتي کيد و له مخي پرولتاريا رازيږی يعنی دهغه سره کارګری طبقه مينځ ته راځي کوم چي دهغه سره جوخته داستثمار يا د زبيښاک لمن پراخيږی اودهغه شد ت په هند کی دومره زياتيږی چی بزګرانوهم دمقاومت ډ لی جوړوی اود انګلستان دامپرياليزم په وړاندی په مبارزه لاس پوری کوي . دشلمی پيړي په سرکي کارګري اتحاد يي جوړيږي ، لاريونونه پيل کيږي دهندوستان په دوه ډيرو لويو ولاياتو لکه په پنجا ب او بنګال کي ټول خلکو اوټولو بزګرانو را پورته کيږی اوپه طغيا ن لاس پوري کوي. هغه هندی انقلابيون کوم چی له هندوستا ن څخه تبعيد شوی وه په اروپا کي دخپل همنظرو سره اړيکي ټينګ کړل اود همدی تما سونو له مخی هغو وشو کړی چی د خپل ګوند د جوړلو د پا ره تجربی او قوتونه سره شريکی کړي نو په همدی وخت کي دروسيي د (۱۹۰۵) کال بورژوا د موکراتيک انقلاب دغه هندي تبعيد شوی ته د خپل ګوند د جوړولو نوی لاری چاری په ګوته کړ کوم چی دهغه په رڼا کی دوی په کال (۱۹۱۱) کی وشو کړی چي د آريتی کسان(kairti kassan party) په نوم باندی په امريکی کی حزب جوړ کړی نوهمغه وه چی هغوی وتوانيد چه خپل حزب جوړکړی کوم چي وروسته له هغه د هغو د نوی جوړ شوی ګوند څانګی په امريکا ، کا نا دا او په اروپا کی هم پرانيستل شو. د روسی د اکتوبر(1917) کال انقلاب ، هند يی ولړځول چي د هغه په رڼا کي دهندوستان کمونست ګوند(CPI) په کال(۱۹۲۰) جوړشو اود هغه لمړی منشی ښاغلي م.ن.رای (M.N.Roy) په دريم انترناسيونا ل کی ګډون وکړ، په کال (۱۹۳۴) کی د هند دکمونيست ګوند پر فعاليتونو با ندی د بريتا نيوی امپرياليزم له خوا له دی نه چي دنوموړی ګوند لمن ډير په چټکی سره مخ په پراخيد و وه بنديزونه ولږول شو ملګر هغه بندويزونه ونشو کړی چی د حزب دفعاليتونو په مخ کی خنډ شی لکه چی لاتر اوسه کمونيستی انديښنی په هند اودنړی په نورو برخو کی د مختلفو احزابو ترلاربنونی لاندی خپل فعاليتونه ترسره کوي . په عين وخت کی دريم انترناسيونال چی دستالين ترمشری لاندی دايره شوی وه وروسته له هغه د يوی سرتاسری مرحلی پوری روسيه ديو سياسيی انحطاط سره مخامخ شو اوهغه داچي له «دريمی دوری » څخه د خلکو جبهه له يوی خوا اود هتلرسره د متحدينو ديرغل په پيمان کی دنه

داخلیدل موضوع گڼلی وه کوم چی ډیر کمنترین یې دیو کونګ لړلید سره مخامخ کړ اواکثرو هک اوپک شو چی ولی دشوروی بیروکراتیک ډلی د سویالیزم دتیوری په اړه دماتی سره مخامخ دی اونشی کولي چه یوه غوڅ کړن لاری وټاکی نو د همدغو دلایلو په نظر کی نیولو سره وه چی یو سرتا سری ډوله انحطاط مینځ ته راغی اوهغه داچي په یو هیواد کی د سیوسیالیزم د تیوری د دوه مرحلوی متفاوت محتوی اومضمون ښکارشو . د هند کمونست ګوند (CPI) هم په کورکورانه بڼی سره د ستالین په لاره لاړ یا دهغه لارتعقیب کړکوم چی دهغه په نتیجه کی دهند د ډیر پرولتاریا او انقلابیون څخه لاره ورک شو په بی لاری او ګمراهی کی سره ولویدل او سره بی تفاوت شول اوکله چی دوهم نړیوال جګړه پیل شودهند کمونست ګوندخپل دغه اختلاف ته ترهغه وخته پوری دوام ورکړل ترڅو چی ستالین دمتحدینو سره ایتلاف وکړ په دی وخت کی دهند کمونیست ګوند په دوه دلیلونو سره ونه غوښتل چی د انګلستان د امپریالیزم په وړاندی خپل مبارزی ته په هراړخیزه بڼی سره دوام ورکړي (اول ) داچی انګلستان د متحد ینو دایتلاف یوه غړی وه (دوم) داچی په دوومرحلو کی د دوه ګونی تیوری شتون ، نو دهمدی دوه دلیلونو په نظر کی نیولو سره د هند کمونیست ګوند وغوښتل چی د بورژوازی د ملی د موکراتک انقلاب مرحله د بورژوازی تر مشری لاندی سر ته ورسوی . له بلی خواڅخه دهندوستان میلینونوتکړه ځوانانواو انقلابیونواود آزادی جنګیالی له بریتانیا څخه دخپل هیواد دازادی د پاره هرډول سربښندونو اوقربانی ته چمتو شو کوم چی دهمدی دلیل پر بنیا د په لس ګونو زرو خلکو د (۱۹۴۰) نه تر (۱۹۴۵) پوری خپل ژوند دلاسه ورکړل اوشهیدان شول اوهمدارنګه په لس ګونو زرو نورو بند یخا نی ته ولیږل شول اوهم په زرګونو نورو وټکول شول لاکن د هند د کمونیست ګوند په نظر دغه د آزادی جنګیالی هغه حزب ته د ( پنځم ستن ) حیثیت اومفهوم درلودل . کال (۱۹۴۵) دهند دنیمي وچي داعتصا با تو،لاریونونو اود قیامونو کال شمیرل کیږی کوم چي ددی نیم قاری اکثرو خلکو دانګلیس دامپریالیزم په وړاندی په سرتا سری شورشونو اوقیامونو لاس پوری کړل نو په دی وجهه سړی ویلی شي چی نوموړی کال دهند په تاریخ کی یو نه هیریدونکي کال دی ، دیادونی وړ خبره دادي چی نوموړي لاریونونو اوقیامونه ټول د هند دکارګری طبقی تر مشری لاندی ترسره کید ل د همدی کال د فبروری د میاشتی په لسم کي د هندوستان بیړی چلونکی په اعتصاب لاس

پوری کړل او خپل پیوستون اوجانبداری یی دهندوستان دټولوبحری قوتونوسره په ډاګه کړل، اوپه دی وخت کی دهندوستان دسلطنتی هوایی قوتونه هم په اعتصاب اولاریونو باندی پیل وکړل دهمدغي کال د مارچ په میاشت په جلال پورکی سپاهیانو [ هغه هندی سپاهیان چی د بریتا نیا په اردو کي په کار ګمارل شوي وه ] هم په اعتصاب راپورته شو په دری دون (Dera Doon)کی د ما رچ د میاشتي په (۱۸) کي دګورکا(Gorka) سپاهیانو طغیان وکړل ، د پورتنی ذکرشوی لاریونونو اود اعتصاباتو سره جوخته دهندوستان په اکثرو لویو ښا رونو کی لکه په دهلی ، کراچي ، بمبی ،مدارس اونورو ښارونوکی هم اعتصابات اولاریونونه پیل شول د اپریل په دریمه نیټه کي ددهلی پولیس اعتصاب وکړل چی دهغو سره دبیهار ټول پولیسو په قیام او اعتصاب را پورته شول د می په میاشت کی د سلطنتی اورګاډی دپټلی ( سل زره)کارګرانو اومستخد یمونو اود همدی میاشتي په (۲۳) نیټه کی ( ۴۰۰) زره صنعتی کارګرانو د مظاهره کونکو د لیکو سره په اعتصاب او په قیا مونو لاس پوري کړل اودهغو سره یوځای شول . ددغه اعتصاباتو اولاریونونو په لړکي دهند کمونیست ګوند د اعتصاباتو د ما تي ورکونکی نقش ولوبول یعنی نوموړی حزب غوښتل یا وغوښتل چی دغه قیامونو او اعتصابا ت د ماتی سره مخامخ کړی ، سره له هغه چی د چین (۲۷-۱۹۲۵)اودهسپانیي (-۱۹۳۴ ۳۷)دانقلابونوله ماتی څخه هم درس اوعبرت وانخیسل اوپه ډیر کورکورانه اوپټ سترګو سره دستالین پر هغه دوه مرحلوی ناسم تیوری باندی ډډه ولګول اوپه دی هیله چی ګوندی د بورژوا دموکراتیک دانقلاب مرحله ترسره کړی کوم چی هغه مرحله اصلاً هیڅ مینځ ته را نغی نوددغه ستر ایدیو لوژیکی تیروتنی ( اود انګلیس امپریالیزم سره په هغه اتحاد کی چی ستالین په دوهمه نړیوال جګړه کی کړی وه)سره دهند کمونست ګوند کوم چی دستالین لاره تعقیبول دهند کارګری طبقی ته دیو بیګانه حزب حیثت اونوم ترلاسه کړل څکه چی مخالف لاره یی ځانته کړی وه . په هرصورت دهند دهغی وخت حالات د هند د کنګرس اود مسلم لیګ په ګټه وڅرخید اوداځکه چي کنګرس او مسلم لیګ د اعتصا باتو اود خلکو دقیا مونو رهبری تر لاسه کړل ،هغوی په دی با ور درلود چی نوموړی جنبش اوتحریک ددی توان اوقدرت لری چی دانګلیس امپریالیزم ، سرمایه داری او فیوډالیزم له صحنی څخه لری اود ما تي سره مخامخ کړی اود هغو د مینځه وړلو د پاره یواځنی لاره دآزادی خواهی

دتحریک ژوندی ساتل دی اوبس د هند میلینونو خلکو دهند د کمونیست حزب ددغه ایدیولژیکی تیروتنی څخه خپل ژوند دلاسه ورکړل اونوموړی حزب نه یوائی داچي د هند د کارگری طبقی د بریا لیتوب طلای چانس دلاسه ورکړل بلکه دهند ټول خلک یی په وینه کی ولړل ، په کال (۱۹۴۷) کی بریتانیا له هند څخه ووتل اوپه هندوستان کی لا دهغه توی شوی وینی لکی اوداغونه نه وه وچه شوی چی خلکو په شورش او په کتلوی مهاجرتونو باندی پیل کړل د هند کمونیست گوند د هند په ټوټه کیدو (هند – پاکستان ) باندی خپل رضایت وښودل اوخپل اسلامی کدرونو ته هدایت ورکړل چی د نورو مسلمانو ورونیوسره پاکستان ته کډه وکړی .

*****************

نور بیا په دوام

# د پاکستا ن کمونست گوند